د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

دویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پانه: www.unama.unmissions.org

<u>رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)</u>

**یواین مکلاود، د ملګرو ملتونو د کډوالو د اداری مشر په افغانستان کی**

**نسیم مجیدی، د آلتای د مشورتی کمپنی څخه،**

**داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه،**

*کابل- دوشنبه د جون د میاشتی ۱۵ نیټه، کال ۲۰۰۹*

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري، یوین مکلاود**

د ۲۰۰۴ کال راهیسې د پنځو کلونوپه موده کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري یو لړ د څیړنې پروژې د وګړو د خوځښت په اړه افغانستان ته او د افغانستان څخه د باندې پرمخ بولې دي. دغه ټول څیړنیز کار د دې له امله امکان موندلی دی چې د اروپا د کمیسون له خوا سخاوتمندانه مرسته کیږي، د دغه کار په اړه په عامه رسنیو کې معلومات شته چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري په ویب پاڼه کې دی، د دې ډیره برخه په دری او پښتو ژباړل شوې ده.

زه ویلای شم چې د دغه ټولې څیړنی موخه دا ده چې د دوو شیانو پوهیدنه اسانه شي: او هغه دا چې ولې افغانان په خوځښت کې دی او هغوي د افغانستان څخه او یا هم افغانستان ته څنګه خوځښت لري؟ په تیرو ۳۰ کلونو کې ډیر وخت په واقعیت کې د کډوالو تعریف د دې لپاره کارول شوی ی څو دا واضحه شي چې نږدې هر افغان چې د افغانستان څخه ځي او دغه تجربه تر نن پورې دوام لري. خو د نن ورځې د څیړنی چې د التایي د موسسي له خوا ترسره شوې ده دا په ډاګه کوي چې د نور وخت څه توپیر لري، تر ډیره حده پورې دا یو هڅوونکی انځور دی. د دې څخه دا څرګندیږي چې ډیر وګړي شته چې د افغانستان او پاکستان د پولو څخه هره ورځ تیریږي راتیریږي. خو د دغو خوځښتونو او تګ راتګ زیاته برخه د سوداګرۍ، اقتصادي، او ټولنیز خصوصیت درلودونکې ده، او موږ په دې باور یو چې دا دواړو هیوادونو په ګټه ده.

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري له نظره موږ په دې بار یو چې دا د پالیسي جوړونکو لپاره ډیره مهمه ده څو هغوي په دې وتوانیږي چې د کډوالۍ او د وګړو د نورو خوځښتونو او تګ راتګ ترمنځ توپیر ولري. ستاسو څخه دیری کیدای شي دا په یاد ولري چې هغه سروی او ریسرچ چې موږ تیر کال ایران کې د افغانانو په اړه نشر کړله هلته موږ د هغو افغانانو ترمنځ چې اسناد لري او د ایران له دولت سره د کډوالو په توګه ثبت دی او هغوي چې دغه هیواد ته پرته د اسنادو څخه د کار په موخه ننوتی دي، توپیر په ډاګه کړې ؤ.

لکه چې تاسو به واورئ چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تګ راتګ په اړه سروې مشابه او ورته نتیجه ګیرئ ګانې لري، دا په ډاګه کوي چې یو ګڼ شمیر افغانان په دواړو لورو هره ورځ حرکت کوي، دا په بشپړه توګه یو نورمال حالت دی. خو هغه څه چې غیر نرمال دی نو د هغه په اړه به تاسو واورئ او هغه دا چې ګڼ شمیر دغه تګ راتګونه تنظیم شوی نه دي. وګړي د پولې څخه هر ورځ پرته له دې چې د سفر او یا هم پیژندنې سندونه ولري تیریږي راتیریږي او دا چې هغوي پرته له دې څخه چې په رسمي ډول د کنترول او تشخیص له پروسې څخه تیر شي د پولې څخه تیریږي راتیریږي. زما په اند تاسو به موافق و اوسې چې دا د یو نړیوال سرحد لپاره نورماله وضع نه ده.

اجازه راکړی چې زه خپلې پرانیستونکی خبرې پای ته ورسوم او یوازې دومره ووایم چې دا زموږ هیله ده چې دغه د ریسرچ کار به داوړه هیوادونه دې ته وهڅوې څو دې مسلې ته توجه وکړي او هغه تنظیم کړي؛ دا د دغه ریسرچ موخه ده چې موږ هغه مدارک او شواهد راټول کړي دي چې د پالیسي جوړونکو لپاره دي څو چې هغوي ورڅخه په سیمه کې د وګړو د خوځښتونو او تګ راتګ د سازماندهۍ او تنظیم لپاره کار واخلي.

**اغلی نسیم مجیدی، التایي د مشورتي پروژی مشره**

سهار مو په خیر او ښه راغلاست. زه به اوس تاسې ته ددې څیړنې د میتودولوژي او د هغې د موندنو په باب یوه لنډه پیژندنه درکړم. ددې څیړنې موضوعات تاسې ته درکړی شوی دي چې پاکستان او افغانستان په منځ کې د سرحدونو په اوږدو کې د خلکو تګ راتګ دی.

دغه سروې په دوو ځایونو کې شوې ده، په تورخم په ننګرهار کې او سپین بولدک کندهار کې چې د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر او نوومبر کې د دوو هفتو لپاره شوې ده. سروې په لویه پیمانه څیړنه وه چې له ۲۰۰۰ څخه زیاتو خلکو سره مرکې وشوې چې دواړو خواوو ته، له پاکستان څخه او د پاکستان په لورې په حرکت کې وو. که تاسې سلایډ ته وګوري، چې دلته موجود دی تاسې به دقیقه اندازه ووینئ.

له مرکو څخه علاوه موږ د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري په مرسته په سرحدونو کې خلک شمیرلی دي، څو یوه حقیقی اندازه د خلکو معلومه کړو چې دورځې او په اونۍ کې زیات شمیر خلک د تګ

راتګ په حال کې ښيي. د ۲۰۰۸ په سپتمبر کې په یوه عادي ورځ له طورخم څخه ۵۵ زره کسان تیر راتیر شول او په سپین بولدک کې دغه شمیر ۲۵ زره کسان وو. د دوي ډیری انفرادي کسان وو.

د دې څیړنې عمده موندنې دا دي چې د افغانانو ډیری چې له پاکستان څخه راځي او یا هلته ځي موقتي کډوال دي او دوي د امنیتي ستونزو له کبله نه، بلکه د دوي به مهاجرت کې د اقتصادي، اجتماعي، او کلتوري لاملونو یو ګډ لاس دي. پاکستان ته د تګ یو عمده لامل اقتصادي جنبه لري. ۶۴،۶ په سلو کې افغانانو پاکستان ته تګ یو عمده لامل په افغانستان کې د کار نشتوالی وګڼه. خو زموږ ارقام ښيي چې اقتصادي فرصتونه محدود دي، او د مزد توپیر هم همیشه په ګټه نه دی.

د راپورونو له مخې یو عادي افغان کارګر په پاکستان کې د میاشتې ۱۶ ډالره زیرمه کوي، له دې امله په پاکستان کې کار او ژوند کول دومره ګټور نه دي په دغه زیرمو علاوه دوي له بهر څخه هم روپۍ ترلاسه کوي. یوازې ۵،۹ فیصده افغانان چې مرکې ورسره شوې دي پیسې لیږي او ۱۹ په سلو کې له پاکستان څخه بیرته پیسې راوړي. په دې ډول هدف دا دی چې د کورنی بیړنی اړتیاوې پوره شي، نه دا چې ثروت پیدا کړي. د څیړنې نتجیه دا هم وه چې په وړو سکتورونو او ساختمان کې د ټیټې درجې ډیر زیات مسلکی کارګران کار کوي.

د کډې کولو مصرف کم دی او د اوږد مهال اقتصادي تاثیرات هم کم دي. د زیرمو د نشتوالی او له بهر څخه د پیسو سره سره په سلو کې ۶۴،۶ افغانانو چې مرکه ورسره وشوه ومنله چې د دوي کاري تجربو د هغو په مهارتونو یا ډیر کم یا هیڅ مثبته اغیره نه ده کړی. د کډوالو لیږد ورو ورو خپل ځای د کارګرانو مهاجرات ته پری ایښی او اجتماعي او کلتوري تبادله هم زیاته شوېده.

د پولو په دواړو خواوو کې د لویو شبکو له خوا امکانات برابر شول. د ځواب ورکوونکو نیمایي خلکو وویل چې دوي په دواړو خواوو کې کورونه، ملګري او خپلوان لري. ۶۴،۶ په سلو کې په پاکستان کې د کارموندولو لپاره په دې شبکو باندې اتکا کوي.

که څه هم د تګ راتګ لومړنۍ هدف اقتصادي دي، خو ۲۰ سلنه پاکستان ته خپلو کورنو ته ځي او نور ۲۰ سلنه پاکستان ته ځکه ځی چې کورنۍ او دوستان وګوري. هغه خوا د افغانانو خوځښتونه او حرکتونه دا جوتوي چې د وګړو نقل او حرکت مشابه او نورماله بڼه غوره کړې ده. دا خوځښتونه زیاتره لنډمهاله او د دوراني خصوصیت خوځښتونه دي چې د هغو افغانانو له خوا تر سره کیږی چې په افغانستان او پاکستان کې میشته دي.

د ځواب ورکوونکو څخه ۸۰ سلنې یې دا څرګنده کړه چې زیاتره خوځښتونه د تګ راتګ لپاره په هرو دریو میاشتو کې دي. دغه خوځښتونه د ۴۲،۶ سلنې لپاره لنډ مهاله دي چې په پاکستان کې د یوې میاشتې څخه لږ وخت تیروي. په سرحدي سیمه کې اوسني حالات یو لږ پوښتنې راپورته کوي چې د هغو له مخې د سرحد د تنظیم د پالیسو د پلې کولو لپاره د امکاناتو په توګه ورڅخه کار اخیستل کیدای شي.

لومړی دا چې زیاتره سفرونه غیر منظم شکل لري. دغه مطالعه دا څرګندوي چې ۸۱،۲ سلنه ځواب ویونکی هغه څوک دي چې پرته له پاتو او رسمي اجازنامو څخه سفر کوي. د تیریدو په ځایونو کې اوس کنترول یوازې د ډیرې کوچنۍ برخې د تګ راتګ کوونکو لپاره دی. که چیرې تاسو دغو شمیرو ته په لسمه ګڼه سلاید کې وګورئ نو هلته به ولیدل شی چې د سپتمبر په ۱۱ نیټه د ۲۴۰۰۰ کسانو له جملې څخه یوازې ۱۳۸ تنه یې د پاسپورت دفتر ته ورغلی دي چې په رسمي ډول د سرحد څخه تیر شي. دوهمه دا چې دغه سرحد یو نرم او په اسانه ډول د هغه څخه اوختل کیږی.

دغو دواړو د عبور نقطو ته که ځیر شو نو موږ باید تولې ۲۲۵۰ کیلومتره له سرحد په پام کې ونیسو. د تورخم او سپین بولدک څخه پرته په نورو برخو کې ډیرې خلک په اصل کې نه پوهیږي چې سرحد چیرته دی: دغه سیمه د هغو قبیلو میشت ځای دی چې د سرحد په دواړو برخو کې اوسیږي او هغوي سهار مهال د سرحد څخه تیریږي او ماښام بیرته راځي. دلته پوښتنه دا ده چې وګړو ته څنګه معلومات وکړای شي چې په دواړو هیوادونو کې د دې اړتیا ده چې په رسمي چوکاټ کې د یو منظم سیستم لاندې دغه خوځښتونه راشي، او دا چې وګړو د لسیو په جریان کې دغه ډول عادت کړي دی.

**وراندیزونه:** په ساحوي کچه، د سرحدي پولیسو چارو ته باید پاملرنه وشي. د نن ورځې اساسي ستونزه د هغه سیستماتیک میکانیزم د پلی کولو نشتوالی دی چي د هغه له مخې په سرحد کې د تګ راتګ کوونکو شمیره کره او کتنه یې تر سره شي. سرحدي پولیس یوازې په غه رضاکارو افغانانو باندې تکیه کوي چي د پاسپورت دفتر ته مراجعه لري. د سرحد د پولیسو ځواکمنتیا باید زیاته شي چي هغوي د تګ راتګ سندونه وپلټي او د هغو څارنه وکړي. دلته د دې زیاته اړتیا ده چي د سرحدي کنترول د تنظیم په چارو کې تشې له منځه لاړې شي او دا هغه وخت کیدلای شي چي د سرحدي عبور مرور د پیژندنې او شمیرنې دقیق د تشخیص سیستم رامنځ ته شي.

د دولت په کچه د سرحد څخه د عبور او مرور د تنظیم د نشتوالی سره او دا چي دغه سرحد پرانیستي خصوصیت لري، نو ځکه دوه اړخیزو مذاکراتو ته په دې اړه اړتیا ده. دا د دواړو دولتونو مسوولیت دی څو چي د سرحد د مدیریت او تنظیم اغیزمه ستراتیژی جوړه کړي.

د دې راپور لنډیز او بشپړه وورستنی راپور دلته شته او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري د ویب پاڼي څخه یې ترلاسه کولای شي.

**د آزادي راډیو:** لکه څنګه چي تاسو وویل یو شمیر خلک د سفر د اسنادو پرته د پلی څخه ها خوا اوري، دغه مسله به کومې ستونزې رامنځ ته کړي او د افغانستان او پاکستان حکومتونه باید کوم اقدامات ترسره کړي چي د پولو څخه د اوښتو دی نا قانونه عمل ته د پای ټکی کیږدي؟

**یواین مکلاود، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري مشر:** په ربښتیا سره دا د دواړو هیوادونو په حاکمیت پورې اړه لري. دې مسالې ته باید واړه هیوادونه ځواب ووایې، دا مساله د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو په عالي کمیشنري پورې نه ده تړلې. خو په ربښتیا سره چي کله توکي په نا قانونه توګه قاچاق شي، د ګمرکونو د عادي فعالیتونو له وجې عایدات له منځه ځی او یا دا بې کفایتي ته لاره هوار وي. په ربښتیا سره چي دلته امنیتي ابعاد هم مطرح دي ځکه چي یو شمیر زیات خلک د یوې نړیوالې پولې څخه ها خوا او دیخوا تګ راتګ کوي. دا به د داوړو هیوادونو لپاره ډیره مهمه وي چي په دې پوه شي چي د کومې موخې لپاره دا خلک تګ راتګ کوي، دا ډیره مهمه خبره ده او حکومتونه کوښښ کوي چي په دې پوه شي.

**آریانا تلویزیون:** آیا داسې یوه مشخصه ستراتیژي شته چي په راتلونکو پنځو یا شپږو کلونو کې چي د خلکو لیږد کنترول کړي؟

**یواین مکلاود، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري مشر:** د دې څیړنې هدف دا دی چي زموږ په فکر چیرته چي یوه مساله وي او هغه توجه او تنظیم ته ضرورت ولري باید ښکاره شي، دا دواړو حکومتونو مساله ده چي وګوري څنګه کولای شي حالات تر کنترول لاندې راولي او هغسي فیصله صادره کړي، البته په دې باب اوس زیاته پوهه شته او دغه څیړنه په دې معلوماتو نورو هم څه ور اضافه کوي. څومره چي زه خبر یم داسې کوم پلان نشته. زه فکر کوم چي مهمه دا ده چي هر پلان باید د معلوماتو او ارقامو په بنسټ طرح شي او د دې څیړنې هدف هم دا دی.

**بی بی سی پښتو:** دغه تحقیقات او مطالعه د هغو خلکو په لیږد باندې هم څیړنه کوي چي ایران ته یې مخه کړې ده او دویمه پوښتنه دا ده ې راپورونه وایې چي له خیبر څخه افغانان ایستل شوی دي. ستاسي معلومات په دې باب څه دي؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري:** ستاسې د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې، زه فکر کوم ما په لومړی سر کې وویل چي موږ تېر کار د خلکو د تګ را تګ په باب چي د افغانستان او ایرن تر منځ یې کوي یو راپور خپور کړ او هغه څیړنه زموږ په ویب پاڼه کې موندلای شي. موږ په دې باب چي له خیبر څخه افغانان ایستل شوی وي وروستي معلومات نه لرو. موږ ددې راپورونو په اړه اوریدلی دی خو وورستنی معلومات نه لرو.

**کليد گروپ:** تاسي مخکي وويل چي هر څوک چي له ملک څخه وځي او له نړيوال سرحد څخه د پاکستان په لوری اوړي. آيا د افغانستان او پاکستان ترمنځ کوم بين المللی سرحد شته؟ البته بايد په ياد ولرو چي څه موده مخکي د پاکستان حکومت وړانديز وکړ چي اغزی لرونکی سيم تير کړي او په دې ارتباط د دوو ملکونو په منځ کي ډير سياسي تشنج پيدا شو. په افغانستان کي خلک په دې باب خبرې کوي چي له کوم سرحد څخه تير شوی دي؟ ستاسي تبصره په دې باب څه ده؟

**يواين مکلاود، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنري مشر:** د ځرګندو لاملونو له وجهي موږ نه غواړو چي ددې پوښتني په سياسی اړخ کي مداخله وکړو. زه فکر کوم چي هر څوک مني چي په عملي لحاظ يو سرحد شته چي کار کوي او دواړه حکومتونه بايد د خپلو عملي ګټو په نظر کي نيولو سره په دې موافقه وکړي چي دغه سرحد چيرته دی.

**افغانستان ټايمز:** ځينی افغانان د ايران د زاهدان د وورستيو امنيتي پيښو په تړاو او ځيني نور بيا په پاکستان کي نيول شوی، ايا د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنري د دغو هيوادونو د چارواکو سره په دې اړه تر اوسه خبرې کړی او زما دوهمه پوښتنه د هغې ځيرنې په اړه ده چي تاسو يې د مخه يادونه وکړه، دا وواياست چي کله تاسو د دغو افغانانو سره مرکي ترسره کولې، آيا تاسو د داسي عنصرونو سره مخ شوی ياست چي ګويا هغه دې د ترهګری د مسلې سره تړاو ولري؟

**يواين مکلاود، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنري مشر:** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنري د پاکستان او ايران د پولو ورځنی نظارت ترسره کوي دغه نظارت بيلا بيلې بڼې لري، خو موږ د دغه نظارت په دقيق والی باور لرو او موږ ددې نظارت څخه ډير ښه معلوماتو هم تر لاسه کوو. لکه څنګه چي تاسو پوهيږئ موږ يوه خيريه/بشرپاله نمايدګيي يو او موږ د ترهګري په اړه پوښتني نه کو. په پاکستان کي د يو شمير زياتو پرمختګونو په نظر کي نيولو سره بايد ووېل شي چي موږ په پوله باندې خوځښت ته ډير په ځير ګورو. خو تر اوسه موږ داسي کوم شواهد نه لرو چي دا په ډاګه کړو چي د پاکستان وضيعت په افغانانو زيات تاثير کړی دی. زه به تاسو ته يوه اندازه شميرنې وړاندې کړم، د روان مداخلت له امله تر اوسه پورې نږدې ۳۰۰ افغانان د شمالي پاکستان د ۵ متاثره شويو ولسواليو لکه کوز او بر دير، بونير، صوابی او سوات له پلې راوښتي دي. دا شميرنې د سږ کال د راستنيدونکو ۹ سلنه ده. کيدای شي حالت ډير ژر بدلون ومومي، موږ به د لا زياتي خوځيدنې په موخه د دغې پولې نظارت وکړو. ستاسو د هغې بلې پوښتنې په اړه چي د زايدان په هکله مو وکړه بايد ووايم چي ددې پيښې په تعقيب د تلونکو کسانو شمير د عادي وخت په پرتله کم ده.

**آزاد خبريال:** تاسي يادونه وکړه چي آخری موندنی مثبت بهير درلود، خو په همدې ډول تاسی په خپل مطبوعاتی وينا کي ياده کړه چي دا د فکتورونو په معنا نه ده. له طرحه څخه ليری چي کډوال يی په اقتصادی مهاجرين بدل کړيدی، تاسو څه فکر کوئ چي دا به څومره حقيقت وي چي پاکستان نوي کډوال نه منی او پخوانی کډوال هم له هغه ځايه شړي، په همدې ډول تاسو ياده کړه چي د پاکستان له شمالی سيمو څخه يو شمير خلک به بيرته راستون شی، آيا په پاکستان کي امنيتی وضعه به د دی سبب شی چي خلک بيرته پاکستان ته ولاړ نه شی؟ او د نسيم څخه د نور وضاحت غوښتنه، آيا تاسو په خپلو موندنو کي وليدل چي پاکستانيان افغانستان ته راشی، که هو، ولی؟

**يواين مکلاود، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنري مشر:** د دی مطالعاتو موخه دا ده چي دا وښودل شی چي کوم زيات خوځښت چي د پاکستان په پولو کي تر سره کيږي، يوه عادی خبره ده او د تيرو ۳۰ کلونو په پرتله، کوم وخت چي دغه خوځښت ته مهاجرين وويل کيده، يو ستر بدلون ښيی. په داسی حال کي چي وضعه د وړاندوينی وړ نه ده، موږ بايد د تيرو توضيحاتو په ډول، د مهاجرينو خوځښت ته هم آماده ووسو. يو ځل بيا، څرنګه چي تحقيقات ښيی، زياتره خوځښتونه اقتصادی، سوداګری او د ټولنيزو مشخاصتو درلودنکی خوځښتونه دي، خو دا موضوع د مهاجرينو د خوځښت په ګډون، بل هر ډول خوځښت نه نفی کوي. هر يو په دی خبر يو چي په پاکستان کي په زياته پيمانه داخلی بی ځايه کيدنی تر سره شويدي. خو سږ کال تر دی مهاله موږ ۳۶۰۰۰ راجستر شوي افغانان، ثبت کړی چي له پاکستان څخه افغانستان ته بيرته راستون شويدي. خو له پاکستان څخه افغانستان ته په زياته پيمانه مهاجرت نه دی تر سترګو شوی. څرنګه چي ما مخکي ياده کړه، او اوس د پای په خبرو کي بيا وايم چي په پاکستان کي وضعه پر افغانانو باندې ډير اغيزه نه ده کړي.

**نسیم مجیدی، التِبایي مشورتي ډله:** دغه څېړنه او د هغه د نمونو اخیستلو میتودلوژی یوازی پر افغانانو محدوده او متمرکزه وه. کله چې زموږ ډله هلته وو، هغوي د پاکستانیانو سره مصاحبی نه دي تره سره کړي چې د پولو څخه افغانستان ته اوښتی وي. خو موږ د هغو افغانانو په اړه چې په پاکستان کې اوسیدل، په زړه پوری معلومات لرو. زموږ د مصاحبه کوونکو له ډلی څخه ۲۰ فیصده هغه افغانان وو چې د ټولنیز، اقتصادی او کار لپاره د پولو څخه تیر شوی وو او هلته یې ژوند کول.

**ایرنا:** د وګړو د خوځښت د ماهیت په پام کې نیولو سره، کوم چې اوس مهال د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو ترمنځ تنظیم شوی نه دي، څه وخت به دا کار امکان ولري چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ دغه ډول خوځښت تنظیم شي؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري:** ګورئ، زه کوم کوډګر نه یم، نو نه پوهیږم چې دغه کار به څومره وخت ته ضرورت ولري. دا د حکومت دنده ده. زه فکر کوم هغه کار چې په څو راتلونکو کلونو کې باید ترسره شي دا دی چې یو شمیر زیات افغانان باید وهڅول شي ترڅو د رسمي اسنادو سره سفر وکړي. دا پریکړه د دواړو هیوادونو په حکومتونو پور پاړه لري چې دا ډول اسناد د پاسپورتونو او یا د پیژندلګوی د کارتونو په بڼه کې وي. په رښتیا دغې تګلارې ته باید وده ورکړه شي، دا به د خلکو لپاره اسانه وي چې په قانوني او منظمه توګه د دواړو هیوادونو ترمنځ سفر وکړي او د پولیسو او کډوالو د چارواکو سره د هر ډول با القوه ستونزو د هوارولو په برخه کې مخنیوی وکړي.

**هشت صبح:** زما پوښتنه د هغې تسره شوې څېړنې په اړه ده. آیا ستاسو دفتر د ګاونډیو هیوادونو سره د وګړو د تنظیم کولو په چارو غږیدلی دی؟

**یواین مکلاود، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري مشر:** نه، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري د وګړو د خوځښت د تنظیم کولو د چارو مسولیت نه لري. دا په روښانه د دواړو هیوادونو مسولیت دی. که چیرې مږ د پاکستان او ایران د حکومتونو سره خبرې اترې ولرو، هغه په رښتیا سره د کډوالو د ستنیدنې، د کډوالو د ساتنې او مرستود مسلو په هکه وي. خو موږ د خوځښت د موضوع پرسر د هغوي په وړاندې هیڅ مسولت نه لرو. زموږ هڅه دا ده چې د عادي وګړو د خوځیدنې او کډوالو د خوځښت تر منځ په توپیر ځان پوه کړو.

**نسیم مجیدی، التِبایي مشورتي ډله:** ستاسې د پوښتنې په اړه، په ځانګړی ډول د څیړنې په حواله، وږ ښایې د حکایتي شواهدو سره مواجه شوی وی، خو دغه څیړنه او زموږ د تحقیق روش په رښتیا سره د کیفیتي لوړې کچې د څیړنې او علمی معلوماتو پر بنسټ ولاړ دی. ځکه نو زنږ به راپور کې د هر ډول پسټ اقدام په اړه کومه یادونه نه ده شوې، ځکه چې دا زموږ هدف نه ده او دوم دا چې دلته داسې اطلاعات نشته چې د دغو مسایلو په هکله انعکاس وړاندې کړي.